# د خلکو رایې د څه لپاره وکارول شوې!؟




په افغانستان کې له دوه ورځنیو پارلماني ټاکنو وروسته د اشرف غني په شمول ډېری لوړپوړي دولتي چارواکي دغه ټاکنې بریالۍ بولي. دوی وايي چې خلکو د وسله والو مخالفینو هر ډول تهدید ته تن ورکړ او ولسواکۍ او ډیموکراسۍ ته یې رایه ورکړه. راځئ د دغه ادعا ځرنګوالی په بې پلوه توګه وڅېړو او په لنډ ډول دغه ټاکنې وارزوو.

له شک پرته افغانانو غربي ډیموکراسۍ ته نه، بلکې نژاد، قوم، ژبې، مذهب او پیسو ته رایه ورکړه. ځکه همدا د اشغال او استعمار تر سیوري لاندې ډیموکراسي ده، چې د خلکو د تفکر دایره یې تر دغه کچې کوچنۍ او محدوده کړې ده. هرځومره چې د انسان فکري لیدلوری محدودېږي، هومره کوچنی فکر کوي. له همدې امله یې د افغانستان د مسلمان ولس هغه اوچت او پراخ فکر چې یو وخت به د بریتانیا او شوروي د امپراطوریو د راپرځېدو سبب کېده او د نړۍ مسلمانانو ته به یې د ویښتابه او مبارزې الهام بانبه، هومره تنګ او وروسته پاتې کړ چې تر خپل نژاد، قوم، ژبې، مذهب او موقتې مادي ګټې پرته یې نور هرڅه هېر کړل.

دغه فکري او سیاسي وروسته پاتې والی یوازې په ټاکنو کې ثابت نه شو، بلکې د سکاټ مېلر له خوا د جنرال عبدالرازق د وژنې پرمهال هم بشپړ بربنډ شو. پخوا به افغانانو د هند د مسلمانانو مظلومیت ته ځواب وایه او د هغوی د دفاع لپاره به یې لښکرې استولې. یوې خبرې به د ګرګین پر وړاندې د میرویس خان غیرت را پاراوه او د سترګو په رپ کې به یې هغه تس نس کاوه. وزیر اکبرخان به د میکناټن ښکېلاکي اکټونه نشواى زغملى او په بیړه به یې د هغه مغز په خپله طمانچه باد-باد کړ. مګر دا ځل امریکایي - غربي یرغل افغانان دومره ځپلي او وروسته پاتې کړي، چې نور یې په دا ډول حالاتو کې احساسات نه راپارېږي او یوازې د هغو اصولو او قواعدو پر مټ حرکت کوي چې ښکاري یې د تور یا

جال په څېر تر اوبو د نه پر کبانو خوروي. نیول شوي کبان د ښکاري تر تور یا جال لاندې لندمهاله خوشالي کوي او گومان کوي چې آزادي لري، مگر هغوی تر تور یا جال لاندې دي، هر وخت چې ښکاري وغواړي هغوی وژلی، ربړولی او آزادولای شي.

هغه ډیموکراسي چې غرب څپلو په غربي نړۍ کې لیدلې او هڅه کوي چې هغه په افغانستان کې پلې کړي، اصلاً امکان نه لري. ځکه هغه د غرب لپاره تر ټولو ستر ارزښت دی. امریکا او غرب هېڅکله نه غواړي خپلې مستعمرې پر هغو ارزښتونو سنبال کړي، چې د دوی او د دوی د پلرونو افتخار گڼل کیږي. بلکې هڅه کوي ترڅو د هماغه افتخار یا ډیموکراسۍ تر نامه لاندې موږ په نژاد، قوم، ژبه، مذهب او سمت سره ووېشي او په داسې ستونزو او ناورینونو مو اخته کړي چې هېڅکله له هغو څخه سر پورته نه کړو. همدا د اشغال او استعمار تر سیوري لاندې وارداتي ډیموکراسي ده او بس. اوس افغانانو هم د همدغې ډیموکراسۍ تر سیوري لاندې ډیموکراتیکې پارلماني ټاکنې ترسره کړې.

د قضیې بل اړخ دا دی چې؛ ریښتیا خلکو د وسله والو مخالفینو هر ډول تهدید ته شا کړه او د ټاکنو مرکزونو ته د خپل نژاد، قوم، ژبې او مذهب پر بنسټ حاضر شول، مگر لاسپوڅي دولت او د هغه د ټاکنو کمیسیون څه ورسره وکړل!؟ دولت د ټاکنو پروسه یوازې د یوې پروسې په توگه مدیریت کړه، نه دا چې پارلمان ته د خلکو ریښتیني استازي لاړ شي او یا هم په ټاکنه کې د خلکو ریښتیني رایه اغیزمنه واقع شي. بلکې یوازې تمویل کوونکو غربي ولسونو او حکومتونو ته یې په رسنیو وښوده چې په افغانستان کې ډیموکراتیکې ټاکنې ترسره شوې او نوی «مشروع!» پارلمان به ډېر ژر په کار پیل وکړي. نو ځکه یې د خلکو، د هغوی له رایو او احساساتو ناوړه گټه پورته کړه. حال دا چې یوازې هغه کسان به پارلمان ته لاړ شي چې امریکا او لاسپوڅی دولت یې غواړي.

که څوک وایي چې داسې نه ده، نو ولې یو شمېر امن سیمې تر ټاکنو پورې قصداً نا امنه شولې!؟ ولې د نا امنۍ تر نامه لاندې گڼ افغانان د رایې له کارولو محروم شول!؟ ولې یې په امن سیمو کې تر نهو یا لسو بجو د ټاکنو مرکزونه بند ساتلي ول!؟ ولې یې په همدغو امن سیمو کې د ماسپښین تر یوې بجې ټاکنیز مواد نه وو رسولي!؟ ولې یې په یوه مرکز کې د ثبت شوو کسانو نیمایي شمېر رایې وکارولې او پر نورو یې د وخت د پای اعلان وکړ!؟ ولې یې په ځینو مرکزونو کې تر ثبت شوو رایو دوه او درې برابره ډېرې رایې وکارولې!؟ ولې یې پر ځینو مرکزونو تش په نامه وسله وال بریدونه وکړل!؟ خلک یې ووېرول او په خپل زړه یې د رایو صندوقونه ډک کړل. او ... نو د شاوخوا ۳۵ میلیونه افغان وگړو څخه د څلور میلیونه رایو پر بنسټ پارلمان به کوم ولسي مشروعیت ولري!

په ټاکنو کې په جزئي ډول په افغانستان کې د امریکا او غرب د نسل د بدلون "Generation Change" پالیسۍ ته هم پوره پاملرنه وشوه. ځکه امریکا د افغانستان د اشغال له پیل څخه تر ننه په تدریجي توگه د افغانانو د ژوند په ټولو برخو کې د نسل د بدلون پالیسي تعقیب کړې ده. پر همدغه اساس یې پخواني مجاهدین لومړی په واک کې ورگډ، ورپسې یې هر یو په ځانگړې بڼه او ځانگړې کچه فاسد کړل او په پایله کې یې په ډېر ذلت او بدنامۍ سره له دندو او واک څخه لیرې کړل. دې ته ورته یې د بېلابېلو پروسو له لارې زرگونه قومي مشران له منځه یوړل. په امنیتي ځواکونو کې یې تر پنځو سوو زیات پخواني جنرالان پر کور کېنول او اوس یې د دغو ټاکنو په ترڅ کې همدغه پالیسي تعقیب کړې، ترڅو د قدرت په هر ډگر کې یوازې هغه ځوانان په کار وگوماري چې د افغانستان د پخوانیو ارزښتونو څښتنان نه وي. هغوی باید له اسلام او جهاد سره اړیکه ونه لري. هغوی باید داسې کسان وي چې قومي نفوذ ونه لري او قومي جوړښتونو ته ژمن نه وي. یوازې غربي فرهنگ ځپلي وي او د کپیټلیزم او ډیموکراسۍ پر بنسټ د واکمنۍ پلویان وي. نو د همدې پالیسۍ پر بنسټ به یوازې د تېرو رهبرانو ځوان زامن، د غربي سفارت خونو ملاتړ درلودونکي ځوان تکنوکراتان او د امریکا او ناټو ځوان پانگوال قراردادیان پارلمان ته لاره ومومي او بس.

له دې ټولو سترو ستونزو سره-سره به د ټاکنو پایلې جنجالي کیږي، د ولس تر منځ به د نژاد، قوم، ژبې، مذهب او سیمې پر بنسټ لا ډېره تفرقه او بېلتون ته لمن وهل کیږي. مگر استعمارگر دښمن به خپلو امن اډو کې د خیر پر غونډۍ ناست وي. د افغانستان له جیوپولیټیک

موقعیت څخه به د روسیې، چین او نورو سیمه ییزو هېوادونو پر وړاندې سیاسي او نظامي ګټه پورته کوي. د افغان حکومت د تمویل احسان به هره ورځ پر رسنیو د فرد-فرد تر غوږونو رسوي، حال دا چې په لسګونو ځله د دوی تر لګښتونو ډېرې پیسې به یوازې د افغانستان له نشه یي محصولاتو ترلاسه کوي. زموږ د زېرمو او معدنونو لپاره به هره ورځ نوي – نوي پلانونه جوړوي.

**نو اې د افغانستان مسلمان ولسه!** پاڅه نور د اسلامي عقیدې پر بنسټ راویښ شه! خپلو ستونزو ته د خپلې عقیدې پر بنسټ حللارې ولټوه! خپل لیدلوری د نژاد، قوم، ژبې، مذهب او سیمې په اندازه مه کوچنی کوه! ته د نړۍ په سطحه د ستر اسلامي امت یوه برخه یې! ته د کفري امپراطوریو قبر کیندونکی یې! نو څنګه اسلام څنګ ته پرېږدې او د وارداتي کفري ډیموکراسۍ لپاره وینه تویوې او رایه ورکوې!؟ د دغه نظام له ډیموکراتیکو پروسو سره مقاطعه او د اسلام پر بنسټ د خلکو ویښتابه یوازنۍ حللاره ده. راپاڅه د خپل اسلامي ننګ پر بنسټ غورځنګ جوړ کړه او د وینو خوړونکو، فاسدو او مفسدو جبریه نظامونو پر ځای د راشده خلافت د بیا تاسیس تابیا ونیسه، ترڅو د دنیا سرلوړي او د آخرت نعمتونه خپل کړې.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر رییس**